
# نورمن بېسيون په چين کې

ژباړن: فرهاد وياړ



د کتاب نوم: نورمن بسیون په چین کې

لیکوال: چانګ چیه چنګ


طراحان: هسو جانګ ـ چو، هسو یانګ، کولین ـ تنګ او
وانګ یی ـ شنګ

ژباړن: فرهاد ویاړ


خپرندویه: سیند، کال:۱۳۹۶

نورمن بسیون د ۱۸۹۰ کال د مارچ په څلورمه نیټه په کاناډا کې وزیږید. په ۱۹۰۹ کال کې پوهنتون ته لاړ. په ۱۹۱۱ کې د یو کال لپاره له پوهنتون څخه تاجیل واخیست چې د ښوونکي په توګه، مهاجرو کارګرانو ته په وړیا توګه انګلیسي ورزده کړي. دا هغه لومړنی فرصت و چې نورمن بسیون یې د کارګرانو ستونزمن او کړیدلي ژوندانه سره آشنا کړ.


نورمن بسیون په ۱۹۱۶ کې د ډاکټر په توګه د پوهنتون څخه فارغ او په ۱۹۳۶ کال کې د کاناډا د کمونیست ګوند غړی شو. د فاشیستي ضد غورځنګ د مرستې لپاره اسپانیې ته لاړ او بیا په ۱۹۳۸ کې یې چین ته سفر وکړ او د جاپان ضد جګړه کې یې برخه واخیسته. د یو ټیپي د جراحی پر مهال یې خپله ګوته غوڅه چې د انتی بیوتیک د نشتون له امله عفونی شوه. هغه بی دمه د ټپیانو درملنه وکړه او بالاخره یې د انترناسیونالیستي روحیې په ښودلو سره ځان د چین ولس لپاره فدا کړ.




د **۱۹۳۸** کال په لومړیو کې، د اوږده سفر وروسته، ډاکټر **نورمن بسیون،** ستر انترناسیونالیست مبارز چې د کانادا او امریکا د کمونیست ګوندونو لخوا د جاپان په ضد د چین مقاومت جګړې د مرستې لپاره لیږل شوی و، چین ته راورسید.




د مارچ په پای کې، له سخت او خطرناك سفر وروسته، ملګری بسیون، د چین د انقلاب زانګو، **ینان** ته ورسید. دلته و چې هغه د انرژۍ او انقلابي شور له ډکو صحنو سره مخامخ شو او د دې لیوالتیا او شور تر اغیزې لاندې راغی او دا ډول یې ولیکل:«بالاخره، دلته، په **ینان** کې، نوې چین مې ولید.»



**ينان** ته له رسيدو يو څه وخت وروسته، هغه د چين د ولسونو رهبر، **مائوتسه دون** سره وليدل.




د شپې ناوخته و چې ملګری بسیون د صدر مائو له لیدنې وروسته خپل کور ته راستون شو، هغه دومره تر اعیزې لاندې راغلی و چې وی نشو کړای بیده شي. په خپل ورځني یاد لیکون کتابچه کې یې داسې ولیکل:«اوس پوهیږم چې مائو تسه دون ولې خپل ملاقاتیان دومره تر اغیزې لاندې راولي. هغه یو ستر انسان دی! د دې نړۍ یو له سترو انسانانو څخه.»



ملګری بسیون د پلړي اتم لښکر یونیفورم په تن کړ او د جګړې لومړی جبهې، یعنې د **شانسی – چاهار – هوپي** د پولو په لورې یې حرکت وکړ. ګوند، ډاکټر بسیون ته وړاندیز وکړ چې یو ساتونکی او یو خدمتکار له ځان سره بوځي؛ خو هغه دا وړاندیز د دې خبرې په ویلو سره ونه منو:«تاسو په دې جبهه کې ډیرو ملګرو ته اړتیا لرئ؛ زه یوازې دا کوچنی شیطان له ځان سره بیایم.»



ملګری بسیون د یوه کږېیچیلي واټ لاره ونیوله او هغه جاله ته ورسید چې د زیږ سیند په څنډه کې تم وه. طبي محمولې یې په لاس کې وی او له دې لالهانده او څپانده سیند څخه په تیریدو ، **شانسي – چاهار – هوپی** ته ورسید.




دوه میاشتې وروسته، یعنې د جون په اولسمه، د ستونزمن او ستومانه سفر او د زیاتو غرونو او سیندونو څخه له تیریدو وروسته، بالاخره ډاکټر نورمن بسیون سرحدي سیمې ته دننه شو. د سیمې خلکو له پوځ سره یوځای د هغه تود هرکلی وکړ.



د نورمن بسیون لومړنۍ پوښتنه دا وه:«ټپیان چیرې دي؟»

ملګرو له هغه وغوښتل چې مخکې له دې چې ناروغانو ته ورسیږي ښه به دا وي چې یو څو ورځې دمه وکړي. خو د نورمن ځواب دا و:«زه دلته د کار لپاره راغلی یم نه د وخت وژلو لپاره. ما د ټپیانو خوا ته بوځئ.»




د سبانی ورځ سهار وختي د پوځ د روغتون د لیدلو لپاره د **سانګینکو** کلي ته لاړ. د جګړې ټپیان یې یو یو په ځیرتیا سره معاینه او د جراحۍ عمل خوني یې په ښه توګه وارزول ه. شرایط وړ نه وو. د درملو او روغتیاي ي تجهیزاتو کموالی ستره ستونزه وه. خو کله چې نورمن بسیون د روغتون کارکوونکي ولیدل چې په جدیت او هلوځلو سره په کار بوخت دي او سیمه ایزه درمل جوړوي، دې هلوځلو ورباندې ډیر زیات اغیز وکړ.



ملګري بسیون په ډیر لیوالتیا او شو ق وویل:«هغه څه چې د چین کمونیست ګوند ، اتم پلي پوځ ته ورکړي، پرمختللي وسلې نه؛ بلکې هغه انقلابي جنګيالي دي چې د اوږده پلي مزل په ترڅ کې پیاوړي شوي دي. د داسې انقلابيونو سره، چې د انقلاب د ملا تیر جوړوي، هر هغه څه چې اړتیا ورته لیدل کیږي، په لاس کې لرو.»



ملګري بسیون، په هماغه لومړنۍ اونۍ کې په بې ساري لیوالتیا، ۵۲۰ ټپیانو ته ورسید او په یوه میاشت کې د ۱۴۷ تنو جراحۍ عملیات وکړ.د ملګري بسیون د روغتیایي خدمتونو له امله، درمل شوي کسان د جګړې لومړۍ کرښې ته ستانه شول.



د سیمې د پوځ  قوماندان د مائوتسه دون هغه لارښود ډاکټر بسیون ته ابلاغ کړ چې له مخې هغه د پوځ د روغتیایي مشاور په توګه ټاکل شوی و او له هغه وروسته هر میاشت ۱۰۰ یوان هغه ته ورکړل کیدل. ملګري بسیون هماغه شپه صدر مائو ته یو لیک ولیکئ او په هغه کې یې قول ورکړ چې د خلکو او د پوځ د سرتیرو اوښکې او موسکاګانې له هغه سره شریکې کړي او خپله میاشتنۍ تنخواه یې هم روغتون ته ډالۍ کړه چې د جګړې د ټپیانو لپاره د خوراکي موادو لپاره مصرف شي.



ملګری بسیون، ان د شپې تر ناوخته پورې په کار بوخت و، د ښه روغتیایی خدمتونو د چمتو کولو لپاره، هغه د یو نوي بیلګه ایز روغتون طرحه کیښوده.



لږه موده وروسته، د **سانګینکو** په کلي کې يو پخواني معبد نوی بڼه ومونده. د ملګري بسيون په وړانديز د کار يوه پنځه اونيزه لړۍ په لاره وليده چې په دغه معبد کې د يو بيلګه ايزه روغتون طرحه پلي شي. په دې کارلړ کې، د سيمې خلکو او پوځيانو په فعاله توګه ګډون وکړ.




د ملګري بسيون کار ورځ تر بلې زياتيدو. د ټپيانو د درملنې سربيره، هغه د روغتون لپاره د تختو د جوړلو په هکله هم  ترکاڼانو ته لارښوونه کوله.



کله نا کله به ملګري بسیون څټک اخیست او له هغو ښښانو سره به یې مرسته کوله چې روغتیایي وسایل به یې جوړول. ملګرو به له هغه پوښتنه کوله چې کله یې هم کارګري کړی ده او که څنګه؛ هغه به موسکیدو او ویل به یې:«د دې لپاره چې ښه جراح ووسې، نو ښایې لومړی یو ښه پښن، ترکاڼ، درزي او سینګارونکي ووسې.»




ملګريٍ بسيون د روغتون کارکوونکو لپاره د ټپونو د عفونت ضد او د درملو په اړه د درسونو لړۍ پيل کړه.




د **سانګینکو** کلي د ښځو د خلاصون  د ملی انجمن غړي، داوطلبې شوې چې د روغتون کتونه جوړ ، پاک او کوټې پریمنځي.



د هغې ډبريږې لارې، چې روغتون ته د ورتګ لاره وه او ټپيان به هر ورځ له هغې تيريدل؛ يو ډبره ماته شوې وه. نورمن بسيون د نورو ملګرو سره لاس په کار شو او دا ډبرينه لاره يې جوړه کړه. ملګري بسيون انديښنه لرله چې داسې نه په دې لاره کې د ټپيانو پښه خوږې شي او لاندې سوري ته ورولېږي.



د سانګینکو په کلي کې د بیلګه ایزه روغتون د پرانیستلو ورځ وه. د پوځ استازي، د سرحدي سیمو یو شمیر استازي او څه باندې دو زره کسان راټول شوي وو چې د روغتون د پرانیست لو لمانځغونډه کې ګډون وکړي. ملګري بسیون په ډیر شوق او لیوالتیا د وینا ځای ته لاړ او خلکو ته یې وینا وکړه.




وروسته له هغې چې غونډه پای ته ورسيده، ملګري بسيون په ډيرې خوشحالۍ سره روغتون خلکو ته ښکاره کړ. دا روغتون که څه هم په هغو امکاناتو جوړ شوی وی چې په لاس کې وو، خو واقعاً يو بيلګه ايز روغتون و.



د سپټمبر په وروستيو کې، جاپاني يرغلګرو د ۳۰۰۰۰ پلي سرتيرو، سپاره سرتيرو او ټانکونو او هوايي ځواکونو
سره د سرحدي سيمو پر زړه بريد وکړ.



دستور ورکړ شو چې بیلګه ایزه روغتون پر خپل ځای خوشې او ناروغان له ځان سره  ویوړل شي. ملګری بسیون پر آس سپور یوځل بیا شا ته راستون شو او په ځغلنده یې روغتون ته وکتل او په قهر یې وویل:«تو لعنت دې وي پر دې جنایتکارو فاشیستانو، دلته مو هم په آرامۍ نه پریږدي.»



له ډيرو غرونو او غونډيو څخه په تيريدلو سره، ملګرى بسيون د هغو ډير شمير کليو او بانډو څخه هم ليدنه وکړه چې د هغوې په لاره کې وو. کله چې يې کليوال ليدل چې د دښمن د بريدونو سره مخامخ دي او د جاپانيانو د «بشپړ نابودۍ» د هڅو په وړاندې جنګيږي، د زړه له کومې خوش حاله کيده. هغه خپل ژباړونکى ته داسې وويل:«د دې ډول خلکو سره، د چين د ولس بريا څرګنده او يقينى ده.»



جنایتکارو جاپاني یرغلګرو د **سانګینګو** کلي ته خپله لاره پرانیسته، خو کله چې کلي ته ورسیدل یو تش کلی یې وموند چې هیڅ څوک په کې نه وو. جاپاني یرغلګرو چې نښه یې په تیګه لګیدلی وه، د کلیوالو کورونو ته اور واچو.

زمونږ پوځیان د دښمن د ځواکونو له شا تیر شول او هغوې یې کلابند کړل. د **شیپنکو** په سیمه کې دښمن نابود شو او له مړو یې غونډۍ جوړې شوې.



د «بشپړ نابودۍ» جګړه چې دښمن په لاره اچولې وه، له ماتې سره مخ شوه. په لاره کې، ملګري بسیون د دښمن پوځي تجهیزات چې په غنیمت اخیستل شوي وو او هغه جنګي زندانیان چې زموږ د پوځ لخوا اسیر شوي وو، ولیدل. په خوشحالۍ یې وویل:«د دې فاشیستانو خوب په ښه ډول ورکړئ! د پوځ سرتیرو ته مو ووایئ چې داسې ډیرې نورې بریاوې هم زموږ په برخه کړي.»



ملګري بسيون د صدر مائو اثر «اوږدمهاله جګړه» په ځيرتيا مطالعه کړ. د دې اثر تر اغيزې لاندې يې داسې وويل:«سمه ده! کومه جګړه چې مونږ مخې ته بيايو د ولس يوه اوږده مهاله جګړه ده چې په يو بشپړ بل ډول وضعيت کې تر سره کيږي. نور د پخوا په شان د جبهې لومړی کرښه او د جبهې شا نه لرو. اوس نو ښايي هغه ځای ته لاړ شو چې هلته تېپيان دي.»



د کال د پای شاوخوا و چې ملګري بسيون يو روغتيايي ټيم د **يانګ چياچوانګ** کلی ته رهبري کړ.



دا ټیم د لارې په اوږدو کې د هوا د ډیر بد وضعیت سره مخامخ شو. ډیر تیز توپان و او د ملګري بسیون سر او مخ په واورو ډک شوي وو. په ملنډو یې وویل:«له سینګار کولو پرته د بابا نوئل په شان شوی یم.» د دې په ویلو سره ټول په خندا شول.



روغتيايي ټيم بی له ځنډه د غرونو هسكې څوكې شا ته پرېښودلی تر څو چې د يانګ چياچوانګ كلي ته ورسيدل. ملګري بسيون بی له ځنډه په كار پيل كړ.



په دې کلي کې، ملګري بسيون يو کوچنی کلينيک د جراحۍ په يو مرکز بدل کړ. په دې روغتون کې چې د غلچکي جګړې د وخت لپاره ځانګړی شوی و، په داسې ډول يې کار کاوه چې دښمن د هغه له پيدا کولو او نابودولو عاجز پاتې کيدو.  په واقعيت کې د دې روغتون ځينې برخې د کليوالو په کورونو کې وې.



د دې لپاره چې نور روغتیایی کدرونه هم په کار بوخت کړای شي، ملګري بسیون د ښوونی او عملي کار ټولګي جوړ کړل چې زده کړیالانو په هغه کې تئوري او عمل دواړه په یو وخت کې زده کول.



ملګری بسیون نه ستومانه کیدونکی ښوونکی و. په آرامۍ او په زړه پوری ډول یې خپل درس ورکاه او په درس کې تئوری له عمل سره یوځای کاوه. روغتیایی مفاهیم یې په روښانه او ساده ډول څرګندول چې زده کړیالان یې په آسانۍ درک کړي.



د دمې په وخت به ملګري بسیون له زده کړیالانو غوښتل چې د یو بل سرونه په پاکي وخروي یا دا چې ختکی قاش کړي چې دوی د تېپیانو پر سرونو د جراحی د عمل لپاره چمتو شي.



د دې لپاره چې د بې هوښۍ په اړه د خپلو زده کړیالانو تکنیک لوړ کړي؛ یوځل، کله چې غوښتل د هغه له پښې څخه یوه میکروبي دانه لیرې کړي، د خپلو زده کړیالانو یې وغوښتل چې د موضعي بې هوښۍ پر ځای هغه ته عمومي بې هوښي ورکړي چې هغوې ته د بې هوښۍ کولو تمرین وشي.




زده کړیالانو د ملګري بسیون غوښتنه ومنله او هغه ته یې عمومي بی هوښي ورکړه. له عملیات وروسته، ملګري بسیون وویل:«ګورئ، که د بی هوښۍ درمل او د جراحي عملیات سره په ښه توګه هم مهاله تر سره کړئ، د بی هوښۍ موده کمولی شئ. په دې ډول کولای شئ د ټپي ناروغ د  درد او رنځ اندازه کمه کړئ.»

زده کړیالانو د ملګري بسیون له روغتیایي ښوونو په دوامدار ډول الهام اخیست.



«د کار يادونی اونۍ» لړۍ ډير ژر پای ته ورسيده. زده کړيالانو نشو کولای له ملګري بسيون څخه جلا شي. له هغې يې ډير څه زده کړي وو. هغوې ويل:«د دې اوو ورځو په ترڅ کې مو دومره ډير شيان زده کړل چې په اوو مياشتو کې د کتاب لوستلو سره مو زده کولای نشول.»



«د جبهې په لور! د ټپيانو په لور!» يو خوځنده روغتيايي ټيم د ملګري بسيون په وړانديز جوړ شو. داسې يو ټيم چې غړو يې شپه او ورځ غرونه او دښتې شا ته پريښودې او هڅه به يې کوله چې ان په سخته جګړېزه مهال کې هم ټپيانو ته ورسيږي.



ملګری نورمن بسیون د هغو لارو په لټه کې و چې وکړای شي د غلچکیو جګړو پر مهال، روغتیایي درمل او وسایل په آسانۍ، اړینو مرکزونو ته ولیږدوي. یو ورځ یې یو کلیوال ولیده چې حیواني سئره پر خپل خره باندې یو ځای ته لیږدوي. په دې خر باندې دواړو خوا ته خورجین ځوړند و. بسیون په خوشحالۍ وویل:«ومی موند!»



بسیون د هماغی خورجین له مخې چې د خر پر شا یې لیدل و، داسې یوه طرحه جوړه کړه چې په وسیله یې کولای شول ټول د عملیات خونې وسایل او د پانسمان لوازم په ښه ډول ولیږدوي. کله چې به یې دا وسیله خلاصوله نو کیدای شو چې ورڅخه د جراحۍ د کټ په توګه هم کار واخلي او بیرته به یې چې راټوله نو هماغه باروړنکی خورجین به ترې جوړیده.

ټولو ملګرو دغه اختراع ستایله.



ملګرى بسيون بى له دې چې خپل امنيت ته پام وکړي، خوځنده روغتيايي ټيم به يې د جګړې جبهې ته بياوو او د جګړې په بهير کې به يې د ټپيانو درملنه کوله.



د **۱۹۳۹** کال په فبرورۍ کې د  **هوپې** سیمه کې یوه بشپړه جګړه روانه وه. ملګری بسیون غوښتنه وکړه چې دې سیمې ته لاړ شي. له دې غوښتنې سره هوکړه وشوه. ډیر ژر «د ختیځ لیږدونکی روغتیایی ټیم» رامنځته او د هوپی په لور یې حرکت وکړ.



د مرکزي هوپي په ټولو برخو کې، د نورمن بسیون نوم د خلکو په ژبه و. یوه د اپریل میاشت په یوه شپه کې په **چی هویی** که سخته جګړه روانه وه، ملګري بسیون روغتیایی ټیم د **ونچیاتون** کلي ته چې د جګړې له جبهې څخه یې دری نیم کیلومتره واټن درلود، ولیږو. هلته، په یو کوچني معبد کې، بسیون د عملیات خونه جوړه کړه.



په داسې حال کې چې د دښمن هوايي بريدونو بې څنډه ادامه درلودل او زمونږ د ځواکونو خوا ته د دښمن د ماشينګڼو ډزې کيدې او د دښمن نارنجکونه هم راغورځېدل، ملګرى بسيون تل ټپيانو ته رسيدو. هغه دوه شپې او ورځې بې له يوې شيبې ځنډ څخه کار وکړ.



د دښمن یو بم د معبد تر څنګه راولید، ټوله ودانۍ یې کلکه ولړزوله او د شا دیوال یې ړنګ کړ.



د ډاکټر بسیون ملګرو له هغه وغوښتل چې یو خوندي ځای پیدا کړي او خپل ځان له بمونو څخه وساتي. بسیون ځواب ورکړ:«کله چې یو انقلاب مخې ته بیایو او له فاشیستانو سره جنګیږو؛ نو نه ښایي چې د خپل شخصي خوندیتوب په اړه فکر وکړو. د کمونیست ګوند یو غړی هیڅکله خپله شخصي ګټه د نورو پر ګټو لومړی نه ګڼي.»



شپه راورسیده؛ خو ډاکټر بسیون لا هم د ټپیانو په جراحۍ بوخت و. چوپړیال یې چې د بسیون ماښامنۍ څو ځله توده کړې وه او لا یې د هغه انتظار ایست، له سختې اندیښنې څخه یې اوښکې تویولې.



قوماندان **هه سو**، د دښمن په وړاندې د يوې پوځي ډلې د لارښونې پر مهال د خيټې په برخه کې سخت ټپي شوی و.




قوماندان د ستونزمن وضعیت سره سره، تر بریا پورې د جګړې په ډګر کې پاتې شو.



قوماندان **هه سو** يې پر روان کټ باندې د ډاکټر بسيون عمليات خونې ته ويوړ. له معاينې وروسته د ډاکټر بسيون پام شو چې د قوماندان کولمې په لسو ځايونو کې څيرې شوې دي، نو داسې وويل:«دا قوماندان څومره زړور سړی دی. خوشاله يم او وياړم چې د داسې ملګرو درملنه کوم.»



جګړه د بریا سره پای ته ورسیده. ډاکټر بسیون درې شپې او ورځې بې خنډه او بې دمې ټپیانو ته ورسید. د ډاکټر بسیون د درملنې له امله ۸۵ سلنه ټپیان ښه شول. بسیون په خوشحالۍ وویل:«وخت، یعنې ژوند!»



ملګري بسيون، قوماندان **هه سو** او نور ملګري چې سخت ټپيان شوي وو، روغتون ته وليږدول. بسيون به کله يو او کله به بل ټپي ته چې پر روان کټ روغتون ته ليږدول کيدل، ورتلو او د هغوې د حال پوښتنه به يې کوله. کله به يې چې اوريدل چې ټپيان ښه دي، نو ويل به يې:«کله چې اورم چې ښه ياستې، نو کومه انديښنه راته نه پاتې کيږي.»



د جبهې شاته روغتون کې ډاکټر بسیون، قوماندان **هه سو** په کټ څملاوه او ملا یې ورته یو څه جګه کړه. او نورو ډاکټرانو ته یې وویل:«کله چې یو څوک د خېټې په برخه کې ټپي وي، ساه ایستل ورته ستونزمن کیږي؛ دا ډول، به د لا زیاتې آرامتیا احساس وکړي.»



ملګري بسیون هره ورځ د قوماندان **هه سو** لپاره څلور وخته ډوډۍ چمتو کوله. کله چې پخلونکي له هغه وغوښتل چې ډوډۍ به په خپله چمتو کړي، بسیون وویل:«فکر کوم ښه به دا وي چې دا کار په خپله وکړم ، ځکه د خپل ناروغ په اړتیا ښه پوهیږم. مناسبه ډوډۍ روغتیا ګړندی کوي.»



کله چې ډوډۍ چمتو شوه، ډاکټر بسیون، په خپله، د ناروغ ډوډۍ هغه ته ورکوله. بسیون، قوماندان ته وویل:«یوه مړی بله وخوره، کله چې بشپړه روغتیا ومومی بیا هغه وخت کولای شئ د دښمن ډیر زیات سرتیري نابود کړئ.» قوماندان هه سو چې د ډاکټر بسیون د مهربانۍ په وړاندې د مننی لپاره کلمه پیدا کولای نشوه، اوښکې یې توی شوی.




د بشپړ روغتیا وروسته، قوماندان **هه سو** چمتو شو چې د خپل خدمت سیمې ته ستون شي. په داسې حال کې چې په سترګو کې اوښکو راټولی شوی وی ، وې ویل:«ډاکټر بسیونه! زه جبهې ته ځم چې د دښمن ډیر سرتیري ووژنم.»



يوه ورځ يې داسې يو ټپي روغتون ته راوست چې د بدن يو غړی يې بايد غوڅ شوی وی. د ټپي لپاره د وينې اخيستلو ډيره ضروري وه. ټولو ملګرو د وينې د ورکړی لپاره خپله خوښي ښکاره کړه.



ملګري بسیون خپل سر د مخالفت په توګه وخورو او وی ویل:«تاسو همدا څو ورځې مخکې وینه ورکړه، دا ځل زما وار دی. زما د وینې ډول مثبت دی او د هر ناروغ لپاره برابره ده.» کله چې هغه خپل لستوڼی د وینې د ورکولو لپاره راپورته کړ، ملګرو په مخالفت کې وویل:«خپل عمر ته خو دې پام وکړه.... دا کار ستا لپاره مناسب نه دی.» ملګري بسیون ځواب ورکړ:«زمونږ ملګري چمتو دي چې په جبهه کې خپله ټوله وینه ورکړي ، زه هم باید د خپلې وینې یوه برخه ورکړم.»



ملګری بسيون د ټپي تر څنګ څملاست او وې ويل:«ژر وکړئ، د ټپي د ژغورنې لپاره ډير وخت نلرو.» نو، په دې ډول د يو پرولتري انترناسيوناليست جنګيالي، د کانادا د ولس د ګران زوي وينه، د ملګري نورمن بسيون وينه د يوه چيني جنګيالي په بدن کې روانه شوه او هغه يې له مرګ څخه وژغورو.




دا خبره چې ملګري بسیون یوه چیني جنګیالي ته خپله وینه ورکړی، په ټوله سیمه کې خوله په خوله شوه. ډیر ژر د وینې د ورکړې یوه رضا کاره ډله جوړه شوه. ملګري بسیون چې ډیر زیات تر اغیزې لاندې راغلی و، وی ویل:«پرګڼي زمونږ د وینې بانک دی. دا د جراحۍ په تاریخ کې یو ناپیژندل شوی چاره ده.»



د اپریل په وروستیو کې، ملګری بسیون خبر شو چې د **سوکانګ** کلي په یوه پټنځای کې د دښمن لیکې ته نژدې د ټپي سرتیرو یوه ډله ده. ملګری بسیون داوطلب شو چې هلته لاړ شي او هغوې سره مرسته وکړي. خو، څنګه چې دا یو خطرناك سفر و، نو رهبري هڅه وکړه هغه له دې کار څخه وګرځوي، خو بسیون په هیڅ ډول خپل فکر بدل نکړ. نو پریکړه وشوه چې روغتیایي ډله د شپې په تیاره کې حرکت وکړي.



روغتیایي ټیم په سلامتۍ د **سوکانګ** کلي ته ورسید. ملګري بسیون ټوله ورځ کار وکړ، خو کار لا پاتې و. روغتیایي ټیم د شپې لخوا باید د دښمن برید ته هم پام کولی. د دې ټیم غړو بی له دې چې خپلې جامې بدلې کړي، بیده شول او آسونه یې چمتو درولي وو.



د سبانۍ ورځ په سهار یو کلیوال د کلي په لودیځه برخه کې د دښمن د پوځ له یوې ډلې سره مخامخ شو. دښمن له هغه وپوښتل:«د **سوکانګ** کلي ته کومه لاره ځي؟» کلیوال بزګر په ډېر جرئت او ډاډ سره دښمن ته چال ورکړ او د شمال خوا ته یې واستول. وروسته له هغه، بزګر په بیړه د سوکانګ کلي ته لاړ او روغتیایي ټیم یې خبر کړ.



څه کم يو ساعت کې، روغتيايي ټيم سوکانګ پريښود او خلکو ټپيان په خپلو کورونو کې پټ کړل. ملګري بسيون په خوشحالۍ وويل:«پلی اتم پوځ د ماهي په شان د انسانانو په سمندر کې لامبو وهي. دا ډول پوځونه هيڅکله ماته نه خوري.»



ملګرى بسيون په مرکزي **هوپي** کې څلور مياشتې په روغتيايى چارو بوخت و. د **شانسي – چاهار – هوپي** د ګوند کميټې هغه ته بلنه ورکړه چې د ناظر په ډول په کنګره کې ګډون وکړي. ملګري بسيون دا بلنه په خوشحالۍ ومنله او په بيړه يې د هوپي لوديځ لورې ته حرکت وکړ.




له لمر پریوتو سره سم، یوه ورځ روغتیایي ټیم هغه کلي ته ورسید چې د دښمن خط  یې مخې ته پروت و. بسیون هغه بزګر ته پام شو چې یوه عفوني او میکروبي دانه یې پر سینه وه. بسیون له خپلو ملګرو وغوښتل چې ودریږي ځو هغه وکړای شي د ناروغ سینه  جراحي کړي.



دا کلی د **پیپینګ – هانکو** د ریل پټلۍ ته نژدې او بلکل د کلابندۍ د خط تر څنګ پروت و. د امنیت لپاره، مل پوځي ډلې، د ګوند د مخفي سازمان په مرسته د جراحۍ سیمه په خپل کنټرول کې ونیوله. د جراحۍ عمل یوازې شل دقیقې دوام وکړ او بزګر چې له رنځ خلاص شوی و، ډیر زیات خوشحاله شو.




روغتیایي ټیم د خلکو په ملاتړ د دښمن له محاصرې په سلامتۍ تیر شو.




د جولای په لومړی، ملګري بسیون د سرحدي سیمو په ګوندي کنګره کې ګډون وکړ. په دې ناسته کې یې په خوښۍ او ښادۍ سره وویل:«هغه جګړه چې تاسو مخې ته بیایی، یوه عادلانه جګړه ده او تاسو په هیڅ ډول یوازې نه یاست. د ټولې نړۍ ولسونه له تاسو سره دي.»



څه موده وروسته، ملګرى بسيون د **شنبي** کلي ته، چيرې چې غلچکي جګړه روانه وه، لاړ او هلته يې د صحرايي روغتونونو لپاره يوه رساله وليکله. دا رساله چې په جګړه ايزه حالاتو کې د روغتيايي خدمتونو په اړه وه، د صدر مائو د ستراتيژيک تفکر د نظرياتو په رڼا کې وليکل شوه.



که څه هم ملګرى بسیون تل په حرکت کې و، خو د هغه روغتیايي خدمتونه یوازې د ټیپانو لپاره نه وو، بلکې عادي وګړو ته هم رسیده. نو د همدې لپاره پرګنو هغه ته «د زمونږ ډاکټر» لقب ورکړى و.



یوه ورځ ملګری بسیون د **هوچیاچوانګ** کلي ته لاړ. مخکې له دې چې کلي ته ونوځي، سترګې یې هغه بزګر ته واوښتې چې لاس یې پړسیدلی و او سخت کړیده. بسیون، ناروغ بزګر له ځان سره درملځای ته بوت.



کله چې جراحي پای ته ورسیده، ملګري بسیون ناروغ ته وویل:«هیله کوم کلیوالو ته ووایئ چې زه د اتم پلي پوځ ډاکټر یم او که کومه روغتیایی ستونزه لري نو ما ته  دې درملنې لپاره راشي.»



دوه ورځې وروسته، ملګری بسیون، د بزګر کور ته لاړ چې د هغه د لاس پانسمان بدل کړي. بزګر چې ډېر تر اغیزې لاندې راغلی و، وی ویل: «نه پوهیږم څنګه له تا منته و کړم.» ډاکټر بسیون په ځواب کې وویل:«زما څخه مننې ته کومه اړتیا نشته، ته باید د پلي اتم پوځ څخه منته وکړئ.»



ناروغ بزګر چې ښه شوی و، ډاکټر بسیون ته هګۍ او خرما د ډالۍ په توګه راوړی. بسیون اول هغه وانخیستی، خو چې د هغې ټینګار یې ولید نو یو څو دانې یې ترې واخیستې او بیا یې روغتیاپال ته وویل چې ټپیانو ته ورسیږي.




یوه ورځ بسیون خبر شو چې په یوه نښته کې یو سرتیری ډیر سخت ټپي شوی دی او د مرګ په درشل کې دی. ملګری بسیون پر آس سپور شو او پنځه ویشت کیلومتره یې آس وځغلوه څو د جګړې ټپي سرتیري ته ورسید.



هوا تیاره شوی وه چې ډاکټر بسیون د جراحۍ عملیات پای ته ورسوو او بی ځنډه خپل هستوګنۍ ته راستون شو چې هغو ناروغانو ته چې د علمیات لپاره یې نوبت نیولی و، ورسیږي.



ګوندي کدورنه د هغې د روغتیا په اړه اندیښمن وو. یوه ورځې ورته یخني پخه کړی وه او له هغه یې وغوښتل چې وې خوري. خو ملګري بسیون یخني په خپل لاس په ناروغانو وخوړله او وې ویل:«زه یو کمونیست جنګیالی یم. څنګه کولای شم له ځانګړو امکاناتو څخه ګټه واخلم!»



ډاکټر بسیون به شپې ناوخته د خپلو ناروغانو احوال اخیست چې د هغوې له وضعیت څخه ډاډه شي.



په هغو سختو ورځو کې، ملګري بسیون د پلي اتم پوځ د یو سرتیري په شان تل تار او ستنه له ځان سره لرله او خپلې جامې به يې په خپله جوړولی.



هغه سرتیری چې ښه درملنه یې شوی وه او خپلې دندې ته بیرته ستنیدو، یو جوړه څپلۍ چې د شولو له ډنډرو جوړې شوی وی ملګري بسیون ته ډالۍ کړی. ملګري بسیون په خوشحالۍ هغه ومنلې او وی ویل:«څومره ارزښتمنه ډالۍ ده!» او په پښو یې کړی.




ملګري بسيون پريکړه وکړه چې د لنډ سفر لپاره کانادا ته ستون شي. موخه يې دا وه چې د ټولو نړيوالو سره د جاپاني ضد جګړې په اړه خبرې وکړي او دې مقاومت ته د مرستې لپاره پيسې، درمل او درمليزه ابزار راټول کړي.



د **۱۹۳۹** د اکتبر **۲۰** مه نیټه یې خپل سفر په پام کې نیولی و، خو جاپانیانو په همغه وخت د هوپې په غرنیو سیمو کې یوې لوې برید پیل کړ. ملګري بسیون خپل سفر وځنډاوه او خپل روغتیایي ټیم یې **لي یوان ـ موتینلینګ** ته چیرې چې ډیره سخته جګړه روانه وه، رهبري کړ.



د **شانچیاچوانګ** کلي ته نژدې چې د جبهې لومړی کرښې سره یې څلورکیلومتره واټن درلود، د بسیون روغتیایي ټیم هغه ټپیان چې د موتینلینګ څخه راوړل شوي وو په یوه معبد کې په بیړه تر درملنې لاندې ونیول.



د برید په دویمه ورځ خبر راورسید چې د دښمن ځواکونو مخامخ لورې ته پرته غونډۍ لاندی کړې ده.



ملګري بسیون په آرامه وپوښتل:«څومره ټپیان تر اوسه پورې عملیات شوي نه دي؟» یوه ملګري په ځواب کې وویل، لس کسه. د ملګري بسیون دستور دا وو:«د جراحۍ دوه نور کټونه چمتو کړئ چې ډیر ژر د نورو ټپیانو درملنه هم وکړو.»



په یو وخت کې پر دریو ټپیانو یې په جدیت سره کار کاوه. یو څو شیبې وروسته خبر راورسید چې د دښمن ځواکونه د غونډۍ په دې لورې راخوځیدلي دي. خو ملګري بسیون، ګڼې چې څه یې نه یې اوریدلي، خپل کار ته یې بې ځنډه ادامه ورکوله.



ډیر ډزې واوریدل شوی. ساتونکی د معبد دننه راغی او وی ویل:«زمونږ ځواکونو همدا اوس د دښمن سره نښته پیل کړه.»

ژباړونکي له ډاکټر بسیون وغوښتل چې سیمه همدا اوس پریږدي. خو ملګري بسیون په آرامۍ ځواب ورکړ:«د پوځ ډاکټر دنده دا ده چې تر پای پورې د جنګیالیو سره  پاتی شي او هیڅکله یې پرنه ږدي. که په داسې حالاتو کې مړ شي، نو له یو پرتمین مرګ به برخمن شي.»



شل دقيقې وروسته، وروستی ټپي يې د بسيون د عمليات پر کټ څملاوه، د نښتې غږونه رانژدی شوي وو. ساتونکي خبرداری ورکړ: «دښمن کلي ته نژدی کيږي.»



یو ډاکټر د ملګري بسیون لاس ونیو او له هغه یې وغوښتل چې ژر دې سیمه پریږدي او کار دې هغه ته وسپاري.
ملګري بسیون بې له دې چې دې غوښتنې ته پام واړوي، وویل:«موضعی بی هوښي!» ټپي خپل سر له بالښت څخه راپورته کړ او وې ویل:«ډاکټر بسیون! هیله کوم لاړ شئ، ډیر ټپی نه یم... مخکې له دې چې دښمن راورسیږي، له دې ځایه لاړ شئ.»



ملګري بسيون بی له ځنډه په جراحي عملياتو بوخت و چې ناڅاپه يې د ژبی لاندې ورو وويل:«لعنتي!» ټول راستانه شول او وينه يې وليده چې د هغه د کيڼ لاس د منځنې ګوتې څخه رابهيږي. «څه نه دي شوي، ګوته مې د جراحۍ په پاکي غوڅه کړه.» دا يې وويل او خپله ګوته يې په تنتور آيدين کې کښته کړه او خپل کار ته يې ادامه ورکړه.



د ماشيندارو ډزې هره ګړۍ رانژدې کيدې. کله چې ملګري بسيون وروستی بخۍ ووهله، ژوره ساه يې وويستله او وی ويل:«ټيي له دې ځايه ويسئ.»او ژر پر آس کيناست او د غونډۍ کښته لورې خوا ته يې آس وځغلو.



د لارې په منځ کې ملګرو وویل چې روغ راووتو او ملګري بسیون په موسکا وویل:«نن مونږه ستره بریا لاس ته راوړه. د پلي اتم پوځ سرتیري د مردکیو له باران څخه نه ډاریږي او که نازکه ټپ هم ولري، د جګړې جبهه نه پریږدي. زه د پلي اتم پوځ روغتیایي مشاور یم او ښایي د نورو سرتیرو په شان ووسم.»



روغتیایي ټیم ټوله شپه آسونه وځغلول تر هغه چې د **کانهوچینګ** د جبهې شا روغتون ته ورسید. د ملګري بسیون ګوته پړسیدلې وه. ملګرو له هغه وغوښتل چې دمه وکړي. ملګري بسیون وویل:«ملګرو! له اندیښنې مو مننه کوم خو ډیر ټپیان درملنې ته اړتیا لري. څنګه کولای شم وخت ضایع کړم؟» نو دوه ورځې یې بې څنډه کار وکړ.



په خواشينۍ سره، کله چې ملګرى بسيون د يو عفوني ناروغ په درملنې بوخت و، ګوته يې ککړه شوه. څو ورځې وروسته ډيره زياته وپړسيدله او تبه يې ۳۹.۶ ته ورسيده. ټول ورته انديښمن وو. ملګري بسيون وويل:«څه خبره نه ده شوی، انديښنه مه کوئ. که يوازې دوه ګوتې هم ولرم، بيا هم کار کولای شم.»



ملګری بسیون په کې بیده او په کې ویښ و چې د توپونو غږ یې واورید. له کوټې بهر راووت او له ملګرو یې وغوښتل چې له هغه سره لومړۍ کرښې ته لاړ شي. یوه ملګري یې مخنیوی وکړ او هغه په خپګان سره وویل:«زما ستونزه یوه میکروبی ګوته ده، همدا او بس!»



د رهبرۍ کدرونو او نورو ملګرو ونشو کړای هغه پاتې کیدو ته اړ کړي. نو د همدې لپاره روغتیایي ټیم د لومړی کرښې لاره ونیوله. ملګری بسیون په سختۍ ځان د آس پر زین ساتلی و. حالت یې ښه نه و.



د ټوپکونو د ډزو آوازونه دم په دم رانژدی کیدل. د لارې په منځ کې روغتیایی ټیم له هغو ټپیانو سره مخامخ شو چې د **هوانګتالینګ** له جبهې یې راوستي وو. ملګري بسیون د هغوې خوا ته لاړ او وی ویل:«له دې چې ناوخته راورسیدو، معذرت غواړم، مونږ وبخښئ»



کله چې روغتیایي ټیم **وانګچیاتای** ته ورسید، د ملګري بسیون بد حال ته یې پام شو. ناروغي یې ډیره شوی وه. غفونت پراختیا موندلی وه او څنګل ته نژدې یې یوه ناوجنه زیوه پیدا شوی وه. په داسې حال کې چې د ډاکټر بسیون خپل حال د خرابیدو خوا ته روان و، له روغتیایي ټیم یې وغوښتل چې ټپیان، په تیره بیا چې د سر، ټټر او خیټې په برخه کې ټپي شوي وي، هغه ته راولی. له ملګرو یې وغوښتل که چیرې هغه خوب وړی و، نو بی څنډه دې ویښ کړي.



که څه هم ډیر کمزوری شوی و، خو شپاړس ساعته نور یې هم بې څنډه کار وکړ. ملګرو له هغه غوښتل چې آرام دې وکړي خو ملګري بسیون آرام کول نه منل. ټول ملګري د ملګري بسیون د لیوالتیا او علاقمندۍ تر اغیزې لاندې راغلي وو.



د نوامبر په نهمه نیټه، د ملګري بسیون وضعیت نور هم خراب شو.تبه یې ۴۰ درجې ته ورسیده. پر **وانګچیاتای** باندې د دښمن د فشار له امله د پوځ قوماندانانو دستور ورکړ چې سیمه تشه شي. مسئولو ملګرو له ملګری بسیون وغوښتل چې د درملنې لپاره د جبهې شاته لاړ شي. ملګري بسیون په پای کې دا غوښتنه ومنله.



د ستنیدو په وخت کې، ټوله لاره رپیده او کانګې یې کولی خو لا یې هم خپل شا ته د جبهې خوا ته کتلی او ناڅاپي یې وویل:«اندیښنه مې دا ده چې زمونږ جنګیالي به خپله وینه په دې جبهه کې تویه کړي، بی له دې چې زه یې په چوپړ کې ووسم.»



د نوامبر په لسمه ملګری بسیون د **زیړې ډبری** کلي ته ورسید چې د **تانګهسیان** په سیمه کې پروت و. دلته یې د روغتیا حالت ډیر بد شوی و. کله چې د سیمې د پوځ قوماندان د دې موضوع څخه خبر شو، په هره بیه یې د ډاکتر بسیون د ځان د ژغورنی بیړنی دستور صادر کړ.



هغه ډاکټران چې پوځ د ملګري بسيون د ځان د ژغورنې لپاره راليږلي و، د زيږي ډبرې کلي ته راورسيدل.



کله چې کلیوال د ملګري بسیون له بد روغتیایی وضعیت څخه خبر شول ټول راغونډ شول چې ځان د هغه په وضعیت پوه کړي. شپه رارسیدلی وه او تورتم  خپور شوی و، خو هیڅوک له خپل ځای څخه ونه خوځیدل.




د سرتیرو هغه ډله چې جنګي سیمې ته په لاره کې وو، ودریدل او ملګري بسیون ته یې درناوی وکړ.



د پوځ افسرانو د سیمه ایزو پرګنو سره یوځای د ملګري بسیون د کوټې د کړکۍ شا نه پریښوده. کله یې چې ولیدل چې څه بد روغتیایي وضعیت لري ټول په ژړا شول او له ډاکټرانو یې غوښتل چې د هغه په ژغورنه کې کوښښ وکړي:«هیله کوو هر څه چې کولای شئ وکړئ او هغه وژغورئ! مونږ جنګیږو او هغه زمونږ له بریا خوشحالیږي....»



ډاکټرانو هر څه چې کولای شول وی کړل خو د هغه په وضعیت کې ښه والی رانغی. ډاکټرانو وړاندیز وکړ چې د هغه کیڼ لاس غوڅ کړي. ډاکټر بسیون وویل:«زه ستاسو نظر ته درناوی لرم خو زما په هکله اوبه له ورخه تیری دي، عفونت په وینه کې ګډ شوی. هیڅ څه له ما سره کمک نشي کولای.»



د نوامبر په یولسمه شپه، ملګري بسیون خپل پاتې ټول ځواک راغونډ کړ او په سختۍ سره پر خپل کټ کښیناست او د سیمې پوځ قوماندانانو، د کانادا او امریکا کمونیست ګوندونو او د دې دوو هیوادونو خلکو ته لیک ولیکو:« ما دلته د خوشحالۍ ښه ورځې درلودې. یوازینۍ پیښماني مې دا ده چې نور نشم کولای خدمت وکړم... تیر دوه کالونه زما په ژوند کې ارزښمتن کلونه وو.»



شپې، ناوخته کله چې ملګرو يې شاوخوا کړۍ جوړه کړی وه، وويل:« زما لخوا له صدر مائو نه د هغو تعليماتو لپاره چې هغه او کمونيست ګوند ماته راکړي دي، مننه وکړئ. زه په کلکه باور لرم چې د چين ولس به بريالی شي او خپله آزادي به تر لاسه کړي. رنځونکی ده چې زه به د نوي چين زيږيدل و نه ګورم.»



په داسې حال کې چې د نورو ډاکټرانو لاسونه يې په لاس کې نيولی وو، داسې يې وويل:«د روغتيايي ټيم چارې سمبال کړئ، جبهې ته لاړ شئ او ټپيانو ته ورسيږئ.» ډاکټرانو په داسې حال کې چې اوښکې تويولې هغه ته قول ورکړ چې همداسې به وکړي.



ملګري بسیون څو چې کولای شو خپل سر راپورته کړ او خپلې وروستې خبرې یې په ډېر ځواک سره وکړې:«وجنګیږئ! دې سترې لارې ته ادامه ورکړې او انقلاب مخې ته بوځئ!»



د **۱۹۳۹** کال د نوامبر د **۱۲** نیټې په سهار، ملګری نورمن بسیون، ستر انترناسیونالیست جنګیالی، خپل ارزښتمن ځان د چین د ولس د خلاصون لپاره قرباني کړ. کله چې دا دردناک خبر د جبهې لومړی کرښې ته ورسید، د پوځ جنګیالیو په اوچت آواز داسې وویل:«پریږدئ چې د ډاکتر بسیون مرګ تلافي کړو!»

او په کلک هوډ یې پر دښمن برید پیل کړ.



د ۱۹۳۱ کال د دسمبر په ۲۱ مه، صدر مائو د «نورمن بسیون په یاد» یوه پرتمینه مقاله ولیکله او په هغه کې د چین له خلکو وغوښتل چې د ډاکټر بسیون څخه زده کړي. په ۱۹۵۲ کال کې، د ملګري بسیون جسد، د چین د شمال د شهیدانو هدیرې، هوپې کې شیهچیانګچانګ ته ولیږدول شو.

ملګری بسیون، ستر انترناسیونالیست به د تل لپاره د میلیونونو چیني وګړو په زړه کې پاتی شي.

**د بسیون په یاد**

مائوتسه دون

(۱۹۳۹)

ملګری نورمن بسیون د کاناډا د کمونیست ګوند غړی، چې څه باندې پنځوس کاله یې له عمر تیریدل د کاناډا او امریکا د کمونیست ګوندونو لخوا چین ته راوستول شو؛ هغه بی له دې چې د زرګونو کیلومترو واټن شاته پریښودو څخه ډار ولري، چین ته راغی چې د جاپان ضد مقاومت جګړه کې مونږ سره مرسته وکړي. ملګری بسیون د تیر کال په پسرلي کې **ین ان** ته راغی او بیا د کار لپاره د **او تای** غرونو ته ودرومید او په خواشینۍ سره چې هلته د دندې په ترڅ کې شهید شو. دا کومه روحیه ده چې یو بهرنی اړ کوي بی له کومی ګټندویه انګیزې، د چین د وګړو د آزادۍ چاره خپله چاره وګڼي؟ دا انترناسیونالیستي روحیه، دا کمونیستي روحیه ده چې هر چیني کمونیست باید له هغه زده کړي. لنینیزم په دې باور دی چې نړیوال انقلاب یوازې هغه وخت بریالی کیدی شي چې د پانګوالو هیوادونو پرولتاریا د ښکیلاکمینو او نیمه ښکیلاکمینو ولسونو د آزادي بخښونکي مبارزې، او د ښکیلاکمینې او نیمه ښکیلاکمینې پرولتاریا د پانګوالو هیوادونو د پرولتاریا د آزادي بخښونکو مبارزاتو څخه ملاتړ وکړي. ملګري بسیون دا لنینیستي کرنلاره په عمل کې پلي کړه. مونږ د چین کمونیستان هم باید په عمل کې له دې کرنلارې پیروي وکړو. مونږ باید د ټولو پانګوالو هیوادونو له پرولتاریا سره متحد شوو، مونږ باید د جاپان، بریتانیا، د امریکې متحده ایالتونو، المان، ایټالیا او نورو پانګوالو هیوادونو د پرولتاریا سره متحد شوو، ځکه دا یوازینۍ لاره ده چې مونږ د هغه په واسطه کولای شوو امپریالیزم نابود کړو او د خپل ملت او ولس او د نړۍ د نورو ملتونو او ولسونو آزادي لاس ته راوړو. دا زمونږ انترناسیونالیزم دی، هغه انترناسیونالیزم چې د هغه په وسیله مونږ د تنګ انده ناسیونالیزم او تنګ انده هیوادپالنې په وړاندې مبارزه کوو. د ملګري بسیون روحیه، یعنې شخصي ګټو ته د هیڅ ډول پاملرنې پرته خپل ځان په بشپړه توګه نورو ته ځانګړی کول، په کار کې د دندې پیژندنې په اړه بی پایه ژور حس درلودل او د ملګرو او ولسونو په وړاندې د هغه په بی پایه او اورنۍ لیوالتیا کې ځرګندیده. ټول کمونیستان باید دا صفات له هغه زده کړي. کم نه دي هغه کسان چې خپلو کارونو کې د مسئولیت احساس نکوي، آسان کارونه په غاړه اخلي او له ستونزمنو کارونو مخ اړوي، درونډ بار د نورو په اوږو بږدي او سپک بار په خپله اخلي. هغوې په هر کار چې پیل کوي، لومړې د ځان په اړه فکر کوي او بیا د نورو په اړه. هغوې هر کله چې یو کوچنی کار تر سره کړي، ګمان کوي چې نور نو اتل شوي دي او داسې نه چې خلک ترې بی خبره پاتې شي، باټې وهي او ځان ستاینه کوي. هغوې د ملګرو او خلکو په وړاندې نه په ګرمۍ او مینې بلکه په سړښت او بی پروایۍ او نا زړه سواندۍ چلند کوي. دا ډول کسان په واقعیت کې کمونیستان نه دي، یا لږ تر لږه بشپړه کمونیستان نه دي. د هغو کسانو په منځ کې چې له جبهې راستنیږي، کله چې د بسیون خبره منځ ته راځي، هیڅوک نشته چې د هغه یاد په ډیرې درناوی ونکړي او د هغه د روحیې تر اغیزې لاندې نه وي راغلي. ډاکټر بسیون په ټولو سرتیرو او د **شان سی ـ چهار حه** د سرحدي سیمې په وګړو، چې د هغه په وسیله یې

درملنه شوی وه او یا د هغه د کار لیدونکي وو، ژوره اغیزه پریښودی ده. هر کمونیست باید د ملګري بسیون د واقعي کمونیستي روحیې څخه زده کړي. ملګری بسیون ډاکټر و او طبابت یې مسلک و او تل یې خپل مهارت او وړتیا د اتم پوخ په روغتونونو کې چې ډیره عالي کچه یې درلوده، بشپړوله. دا بیلګه د هغو دمدمه مزاجه کسانو لپاره چې خپل کسب په آسانۍ بدلوي او هغو کسانو لپاره چې فني کارونه سپک او کوچني و بی راتلونکی ګڼي، ډیر ښه درس دی. ما یوازې یوځل د ملګري بسیون سره لیدلي و. د دې لیدنې وروسته هغه ما ته زیات لیکونه ولیکل. خو زه د زیاتو بوختیاو له امله یو ځل بریالی شوم چې هغه ته ځواب ورکړم او هغه هم معلومه نه ده چې تر لاسه کړی که نه. زه د هغه په مړینې سخت ویرمن او غمژن یم او اوس دا چې دا دومره هغه یادوو، په خپله د هغه ژورې اغیزې ښکارندوی دی چې د هغه معنوي ځواک پر مونږ پریښودی ده. مونږ ټول باید د ځان څخه د تیریدنې او بی غرضۍ روحیه له هغه زده کړو. کېټ مټ د همدې ټکي څخه حرکت دی چې کولای شوو د خلکو لپاره ګټور انسان شوو. انسان شونی دی چې لږتوانه یا ډیرتوانه ووسي، خو د داسې روحیې په لرلو سره کولای شي یو لوړ همته، پاک طبیعته، پاک اخلاقه او له سپکتیا پرته انسان شي او د خلکو لپاره ګټور تمام شي.

## «سیند» خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاځون دی او انتقام ـ سپیځلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳- زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵- ډیر ترویج، ډیر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ – د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷- ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

۱۸ ـ آواز (جوئن بایز ـ تیکن جا فاکلی ـ باب مارلی)، فرهاد ویاړ

۱۹ ـ د لیبرالیزم ضد مبارزه، مائوتسه دون، ژباړه: سرمد

۲۰ – له سترې هیوادنی جګړې څخه ځینې داستانونه، د بوریس پاله وی او د نورو لیکوالو د څو داستانونو لنډیز، ژباړه: فرهاد ویاړ

۲۱- د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل، ژباړه: فرهاد ویاړ

۲۲ـ د میرمنو سور پوځ، ژباړه: فرهاد ویاړ

## خپریږي:

### د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: فرهاد ویاړ

八路